بصيرالحق عادل

# يوه شپه

## د کندهار يونليک

**سږه ورځ وه، غرمه مهال و، د لمر وړانګې هم د يخ پر وړاندې عاجزې وې. کندهار ته مو د سفر نيت لا له وړاندې کړی و.**

**نږدې ملګري ډاکټر ميرويس راته وويل، د غرمې تر ډوډۍ خوړولو وروسته روانېږو. د هلمند له ګرمسېره مو يو شمېر نور ملګري هم راورسېدل، دوی مو هم د سفر ملګري ول.**

**ماسپښين لمونځونه مو لښکرګاه کې وکړل. کندهار ته د تګ په نيت موټرانو ته پورته شولو.**

**زه، ډاکټر ميرويس او تيمور شاه هلمندوال يو موټر ته پورته شولو، صفت الله زاهدي، ډاکټر اصف زبير، نصرت شاه احساس او نقيب الله باور بل موټر ته پورته شول.**

**موږ غوښتل چې ډاکټر اصف زبير هم موږ سره موټر ته وخېژي خو صفت الله زاهدي نوموړی خپل موټر ته کش کړ.**

**دوې بجې کېدونکې وې چې د هلمند له زړه لښکرګاه ووتلو. ځينې خوږن توکي او ځښاک توکي مو هم له ځان سره واخيستل. د کندهار تر دوه لارې نه وو رسېدلي چې ډاکټر عبدالله زنګ راووهه:**

**ودېرېږئ!**

زه هم درسره ځم.

موږ د یو داسې چا د هر کلي په موخه کندهار ته ور روان وو چې د ډاکټر عبدالله ورور و، خو نوموړی چې نادعلي ولسوالی کې روغتون لري له دې نا خبره و چې موږ کله ځو او له بده مرغه په دغه ورځ یې د ټلیفون شمېره هم بنده وه، ګني موږ له شنه سهاره ورسره د اړیکې نیولو هڅه کوله.

دا چې موږ تر ډېره لاره هم وهلې وه او طبعي خبره ده چې پر تللې لارې بېرته راګرځېدل او بیا تلل پر سړي غمېږي هم، خو د صفت الله زاهدي دوی موټر تر موږ ډېر وروسته و، د هغه سره د اړیکې ټینګولو مو ورته وویل، نه پوهېږم زاهدي صیب هم په کومه پلمه ځان ترې خلاص کړی و.

خیر! ډاکټر عبدالله د درې نورو ملګرو سره په بل موټر کې راپسې را روان شوی وو.

ډېر وخت وروسته کندهار ته روان وم، د کندهار تر دوه لارې چې تېر شولو، نو پوه شوم چې لویه لار ویجاړه ده، پر دغه لاره تلونکي لوی او کوچني موټرانو ګنه ګونه او تنګ ویجاړ سړک سره مې فکر تېر حکومت ته ولاړی چې په دې وطن د پیسو باران وشو، خو د کابل، کندهار، هرات لویه لار چې د ورځې پرې سلګونه زره خلک تګ راتګ کوي، هماغه شان ویجاړه او تنګه ده، نږدې هره دقیقه پرې د موټرانو ترمنځ د ټکر امکان شته.

موږ غوبنتل شپې ته کندهار ته ورسېږو نو په دې خاطر په میله ییز ډول کرار کرار روان وو، ځای ځای مو د نورو دوه موټرانو چې زموږ د سفر ملګري وو اړیکه مو ورسره نیوله، ۳ بجې وې چې د میوند له ښارګوټي تېر شولو. میوند کې ډېر ملګري لرم، د میوند ملالۍ ادبي ټولنه ملګرو زما په مشوره او غوښتنه جوړه کړې ده، زما ډېری ملګري میوند کې هټۍ هم لري. دغلته په رسېدو مې شاوخوا ډېر ورپسې وکتل خو نظر مې د هیڅ کوم ملګري دکان لمس نه کړ.

ډاکټر میرویس چې زموږ موټرواني يې هم کوله، زه مخکې ورسره ناست وم، تیمور شاه هلمندوال مو شاته سېټ کې ناست وو، ښه بنډار مو ګرم کړی وو، کله به مو پر یوه موضوع بحث ګرم کړ، کله پر بله او کله. . .



۵ بجې نږدې وې، د کندهار ښار ته ځېرمه غرونه د لمر د ډېېدو له امله طلايي شوي وو، چې د کندهار پر باغ پل ورپورې وتلو، ارغنداب د بې رحمه خزان له لاسه خړ او سپېره پروت وو، هغه سیمه چې پسرلي کې پرې د جنت ګمان کېږي د ژمي سړې ځپې يې د ونو پاڼې داسې سپېرې کړې وې چې د یو افت خیال پرې کېده.

**کندهار ښار ته چې هر وخت ورشم، سم له واره مې خپل تېر تاریخ رایاد شي، د احمدشاه ابدالي د جلال او عظمت کیسې مې سترګو ته ودرېږي، د پښتنو یووالي ته فکر مند شم او تر ډهلي پورې د دوی پر حکومت مې خیال وځغلي.**

**موږ لومړی د باغ پل پارک (تفریح ځای) ته ورغلو. موټر مو تم ځای کې ودراوه. له راښکته کېدو سره سم مو غځونې وکړې، لکه چې ستړي وو، پارک ته وردننه شولو، دغلته کوچنی ژوبڼ هم شته چې دوه یا درې ډوله حیوانات او مرغان پکې دي، لیدنه مو ورڅخه وکړه.**

**هوا یو څه سړه وه، دغه پارک چې په ډېر ښکلي موقیعت کې جوړ دی، له یوې خوا یې د خزان وچو بادونو بڼه ور اړولې وه او بل خوا یې صفایي، ساتنې او نورو برخو ته هیڅ پاملرنه نه وه شوې، چې دغه کار یې زه یو څه مایوسه هم کړم.**

**د ارغنداب د رود پر غاړه د کندهار د ښار دروازې سره په داسې ښکلي ځای کې چې یوې خواته یې د ارغنداب زړه وړونکي سیمه پرته ده، بل لوري ته یې غرونه او تر شاه یې د کندهار ښار پروت دی، بس د تفریح او فکر سمولو ځای وو خو چې کار ورته شوی وای او ځینې برخې رغول شوي وای او ساتنه یې کېدلی.**

**لږه شېبه وروسته مو د سفر نور ملګري د صفت الله زاهدي دوی موټر راورسېد، پارک کې د کوچنی ودانۍ سر ته پورته شولو، لاندې د**



ارغنداب رود بهېده، دغلته مو لږ مجلس وکړ، کندهار ښار کې د ګرځېدو او تفریح کولو پلان مو جوړ کړ. پارک کې مو شنې چای وڅښلې، د چای له جوړونکي سره مو باندار کاوه، نوموړی د هلمند وو، اخر یې وویل زه یو ډول هم لرم. په دې خبرې سره زموږ د ټولو ملګرو اوږې وتخنېدې، ډول یې راوړ، لږه شېبه خو غیر مسلکي اتڼ مو وکړ، یو په بل پسې مو خندل چې له دغه ځای ووتلو.



تر ماښه د ښار په بېلابېلو واټونو کې وګرځېدو. ماذیګر مهال ډاکټر میرویس د احمدشاه بابا لېسې انګړ ته وروستلو، هغه وویل، کلونه وړاندې له دې ښوونځي فارغ یم، هلته چې ورنوتلو ټول زده کوونکي کتار ولاړ وو، یو پروګرام شروع وو، ځینې انځورونه مو واخیستل او دا چې ناوخته وو، ترې راووتلو، د باندې نور ملګري راته منتظر وو، له تندو یې موږ ته مالومه شوه چې ښه رابانده غصه دي.

ماښام ناوخته د ډاکټر عبدالله دوی موټر هم راوسېد، دوی په ښار کې ډېر نابلده وو، په ښار کې د ګرځېدو راګرځېدو مشري هم ډاکټر میرویس ته په دې خاطر ورپه غاړه وه، چې نوموړی موږ ټولو کې مشر هم وو او دغه سفر یې هم پلان کړی وو، نو موږ به مخکې وو او نور موټران به راپسې وو.

ماخستن ته نږدې صفت الله زاهدي د خپل موټر هنداره ښکته کړه، په اشاره یې وویل وږي یو، موږ یو وار ښه ورپسې وخندل، بالاخره مو یو خوړنځای ته موټران ودرول.

کندهار کې ډېر ملګري لرم، که مې خبر کړي وای باوری یم چې په اونیو اونیو یې نه راپرېښودو خو دا چې موږ ښاغلي سردار محمد همدرد ته انتظاره کاوه، وخت لږ و، نوموړی بیت الله شریف ته د عمرې کولو لپاره تللی وو، د کندهار هوایي ډګر ته راتلو، د هغه هرکلي ته ورغلي وو، نو په دې خاطر مو د کندهار ملګري خبر نه کړل.

یوازې مو ګران ملګری لیکوال او تکړه شاعر محبوب مشتاق خبر ورکړی وو، هغه ته مو هم دومره ویلي وو چې د شپې ناوخته درځو.

کله چې مو خوړنځای کې ډوډۍ خوړله ټول ملګري سره یو ځای شوي وو، د ګپ شپ ښه موقع وه، دا چې ټول ځوانان وو نو په داسې خندا او شوخۍ مو ډوډۍ وخوړله چې دغلته ناست شاوخوا خلکو پر شونډو هم مسکا خپره وه.

د ډوډۍ تر خوړولو وروسته مو د مشتاق صیب سره اړیکه ونیوله. د دوی ځای ما مخکې نه وو لیدلی، هغه د خپل کور درک راکړ، ځای مو ورک کړ. یو ځای مو له یوه ځوان پوښتنه وکړه، عرب کلا چېرې ده؟

**هغه وویل: لږ مخکې چېر(تېر) شئ، بالاخره مو سره پیدا کړل، د محبوب مشتاق دوی ځای ته مو ځان ورساوه.**

**په ګرځېدو ګرځېدو دومره ستړي شوي وو چې دغه ځای زموږ لپاره تر جنت کم نه وو، دا چې زما سره ټول ملګري ډېری یې روغتیایي کار کوونکي وو، پرته له صفت الله زاهدي نور ټول زما نا مسلکه وو، د دوی پېژندنه مې له ښاغلي محبوب مشتاق سره وکړه. تر دې وروسته مو ګپ شپ، ټوکو ټکالو ته اوږه ورکړه.**

**ملګري ټول خپلو منځو کې په خبرو بوخت وو، یو پر بل یې مسخرې کولې، کله به یې د بحث سکالو سیاست کړ، کله ډاکټري، کله خاطرې او دا چې دغه د میني نړیواله ورځ هم وه، نو ډېری ملګرو د میني په اړه هم بحث وکړ.**



زه او مشتاق خپلو منځو کې په خبرو اخته وو، کرار کرار مو خبرې کولې. کله به پر شاعرۍ غږېدو، کله پر رسنیو او کله کله به پخوانیو یادونو او خاطرو ته سر وربښکاره کړ چې د نورو ملګرو په څوړ به مو خپلې خبرې پرېښودې او د دوی پر خبرو کې به ښکېل شولو.

تر یوې بجې مو ځان پر بنډار، خبرو، خندا، ټوکو او شوخۍ ښه سترۍ کړ، څلور پنځه ترموزان چای مو وخوړې، بالاخره د ټولو ملګرو سترګې درنې درنې کېدې، دا چې سهار ۵ بجې باید موږ د کندهار نړیوال هوایي ډګر ته ورغلي وای نو د لږ وخت لپاره مو د خوب کولو پرېکړه وکړه، ځایونه مو سم کړل. هر ملګری په ډاډه  او ارام زړه خپله بستره کې وغځېد. چې دوه دقیقې به تېرې شوې نو کوم شوخ ملګري به له ټولو کمپلې کش کړې او ویښ به یې کړو.

دغې شوخۍ تر ډېره دوام کړ، حتی د ځینو ملګرو حوصلې هم ختمې شوې، دومره شوخي مو وکړه چې هغه د لوی کندهار د خلکو خبره: «دومره ډېر سات مو تېر شو، چې په دا یو کال مو نه و تېر شوی.»

د شپې څه د پاسه څلور بجې وې چې د زاهدي نارو او اوازونو راپورته کړلو. هر یو ته یې غږ کاوه چې خپل ځای کې کښېنه، ناوخته دی.

ډېر بې خوبه وو، سترګې مو سولولې، ټول ملګري په خپلو ځايونو کې کښېناستلو، د محبوب مشتاق



سره مو خدای ج پاماني وکړه او د کندهار نړيوال هوايي ډګر پر لور مو موټران سيده کړل.

پر لاره مو يو مسجد مخې ته راغی، له موټرانو ښکته شولو خو دومره ډېر يخ وو چې اغوستي کالي راپسې وچ شول، هلته مو لمونځونه وکړل او بېرته روان شولو.



شپږ بجې وې، لمر په راختو وو چې ټاکلي ځای ته ورسېدو. لمر ورور خپلې وړانګې پراخولې. دا وخت همدرد صیب او هغه سره نور مله ملګري رارسېدلي وو، خو دوی دننه هوايي ډګر کې وو، موږ د باندې ورته منتظر وو.

څه کم اوه بجې وې چې ښاغلی سردار محمد همدرد او ورسره ملګری ثناالله مخلص له هوايي ډګر راووتل، د دوی مخې ته ورغلو، دا چې هوا ډېره زياته سړه وه نو تر روغبر کولو وروسته سملاسي موټرانو ته پورته شولو، همدرد صیب موږ سره موټر ته وختو او نور ملګري په خپلو خپلو موټرانو کې را روان شول، پاوکم اته بجې وې چې د کندهار ښار سره مو خدای ج پاماني وکړه او تر باغ پل راتېر شولو.

پر لار مو له ښاغلي سردار محمد همدرد بېلابېلې پوښتنې کولې، طبعي خبره ده چې زموږ هېواد ته څوک له کوم بهرني هېواده راستون شي نو دلته خلک پوښتنې ترې کوي، د هغه ټول ځوابونه پر اسلاميت متمرکز وو.

همدرد صيب ويل: «د اسلام رښتيني انځور سړي ته په بيت الله شريف کې ورمالومېږي چې څومره پراخ او د يووالي دين دی، هلته د هر مذهب، هر هېواد، هرې توليې، هر رنګ خلک په بيت الله شريف راټول وي او ټول خدای ج ته ژاړي او زاری کوي.»

له هغه مو نورې بېلابېلې پوښتنې وکړې، د سعودي عرب هېواد په اړه مو ورڅخه پوښتنې کولې، همدرد صيب به له هرې پوښتنې وروسته پر خپل هېواد شکر ايسته او ويل به يې خدای ج جنت وطن راکړی خو کاشکې جوړ وای او دلته امنيت وای.

نومړي وويل: «سعودي کې بيت الله شريف دی، هغه د پيغمبرانو ټاټوبی دی، د هغه سيمې پر خلکو او هلته پر اوسيدونکو خدای ج لورينې کړي دي، کنې نور ټول عربستان وچه دښته ده، ګرمي ده پکې خو فقط دغه امتياز لري چې هلته د اسلامي دين مرکزونه دي او له دغه وچو دښتو د اسلام مبارک دين خپور شوی.»

په دغه خبرو خبرو کې همدرد صيب د هېواد او په تېره بيا د هلمند په اړه له موږ پوښتنې کولې چې وضعه څنګه ده، څه بدلونونه راغلي دي؟، فکر کووم د وضعيت په اړه يې لکه چې انديښنه لرله، خو زموږ په مالوماتو يې يو څه د ډاډ ساه واخيسته.

پر لاره زموږ د ملګرو موټران سره مخکې وروسته شوي وو، موږ تر ټولو مخکې روان وو، ځای ځای مو يو له بل سره اړيکې نېولې، لمر ور ور تودېده، د موټر له هندارو د راتېرېدونکي لمر وړانګې زموږ پر بدن خوږې لګېدې، سترګې مو هم درنې درنې کېدلې، خبرو خبرو کې د کندهار- هلمند تر دوه لارې راتېر شولو، اوس مو ټول بحث پر هېواد متمرکز وو، لس نيمې بجې وې چې د لښکرګاه پر دروازه ورننوتلو.

لږه شېبه په دفتر کې کښېناستلو. د ښاغلي سردار محمد همدرد مبارکۍ او هر کلي ته د لښکرګاه خلک رامات شول، تر ماذیګره د نوموړي سره ناست وو، بالاخره زه ترې خپل کور ته رخصت شوم، سترګې مې ډېرې درنې وې، د ماخستن له لمانځه کولو سره سم په خپل بستره وغځېدم چې په ثانیو کې خوب خپلې غېږې ته وړی وم.